# د خوشحال خان

## په شعر کښي انتقادي پانگه

زما ژبه نه ده اور ده
گذارونه د توپک کا
**(خوشحال)**

دپښتوادبیاتو په تاریخ کښي که څوک د شعر دخوږوالي او جامعیت او تنوع او ډېرښت په لحاظ د لومړي پوړ په سر کښي د درېدلو وړ وي نو هغه خوشحال خان دی. چي هم د ده په شخصیت کښي د توري او قلم ښېگني دواړي سره رانغښتي دي.

دی که د یوه توریالي جنرال په توگه د جنگ پر ډگر توري وهي او د رزم حماسي لري، خو د جوړي روغي په ټولنو کښي هم دبزم په سر کښي ناست وي. او د ټولني د ژوندانه رانه او تیاره څنگونه هم ښه وښئي او کره کوی ئې. وړ ئې ستایي او ناوړه ئې غندي. نو ځکه د خوشحال خان په هنر کښي د کره کتني یوه غوره انتقادي پانگه سره رایوځای سوېده. چي د پښتو ادب د کره کتني په برخه کښي ساري نه لري. دده توریالی او جنگیالی شخصیت په بزمي او اجتماعي شعر کښي هم ځلیږي اوکله چي خپله ټولنه او اولس او سیاست کره کوي نوئې د قلم ژبه اورونه بلوي. او د ټوپک غوندي گذارونه کوي. د خوشحال خان د هنر یوه غوره پانگه هغه ده چي دې آزاد دکره کتني خاوند شاعر خپل عصر اوضاع او

اخلاق او سياست او د خلکو کره وړه يعني خان او جهان دواړه په کره سترګه کتلي، او په خپل شعر کښي ئې په خورا سادګي او ملاحت او آزاده ژبه او کله کله په طنزي او هزلي توګه هم انتقاد کړيدی.

کله چي موږ ددغه فنان او زبړندوی هنرمن ټوله انتقادي آثار سره راغونډ کړو او يو ځاي ئې مخي ته کښېږدو نو دده د هنر دغه غوره او ګټه وره پانګه پر درو برخو ويشلاي سواي :

۱. اجتماعي او ټولنيزه انتقادي برخه.
۲. سياسي انتقادونه.
۳. ادبي کره کتنه.

پخپله خوشحال خان دخپل هنر دغه ارزښتمن اړخ ته متوجه وُ. او پخپله "اورنی ژبه" ئې د عصر اوضاع داسي سره راسپړلي او غندلي يا وياړلي دي، چي دده اشعار د اجتماع د هنداري کار ورکوي. او کله کله د قلم په څوکه د توري رژول هم کوي :

آفرين دي په ويلو سه خوشحاله
چي د توري رژول کړې په قلم کي

دغه فن چي په اوسنی ژبه ئې نقد يا انتقاد بولي ما څلوېښت کاله دمخه په پښتو "کره کتنه" بللي وه، خو پخپله خوشحال خان ئې "ګوتي ايښوول" بولي لکه په سوات نامه کښي چي وايي :

په حيرت په واړه ګوتي وچيچلي
د اخوند په مخزن چا ګوتي کښېښولي
(بيت ۲۵۶)

بل ځای ددغه هنر نوم "ګوت منډی" ږدي لکه :

هر شاعر ئې په ويلو ګوت منډی کا
که په شعر کي ته من ئې دی مثقال
(کليات د کندهار چاپ ۶۰۴)



**(۱) اجتماعي انتقاد :**

يوه ټولنه چي په پوړيزه وده کښي د ژوندانه ډول او بڼه ور اړوي او د نوی چاپېر نوی دودونه او اغيزي مني نو دغه اغيزي د دوي د ژواک (فرهنګ) په ګردو اړخونو کښي را څرګنديږي. فکر او مدني مبادي ئې وراړوي ژبي او ادب ته ئې نوې بڼه ورکوي. د حاکم او محکوم روابط سره بدلوي، کله د تصوف له خانقاهه پير روښان غوندي جنګي روحاني مجاهد لاربووونکی راباسي او کله د خانی او بډايی له کومي څخه خوشحال غوندي اور ژبي شاعر له شاهنشاهيته سره د ډغرو پر ډګر دروي. چي دغه کيفيت ته موږ "اجتماعي شعور" ويلاي سو. روښان او خوشحال خو پخپله دواړه په ډله ييز ډول د خانی او بډايی په پوړ کښي ولاړ وه، خو د دوي اجتماعي روابط له هغي محکومي ډلي سره ټينګ وو، چي د آزادي بخښونکو غورځنګو پر درشل هم ولاړ وو.

د خوشحال "اجتماعي شعور" او د خپل قوم او مليت څخه رابرسېرېدونکی لهام دده شعر ته يوه داسي ښکلې بڼه ورکړه چي د ټولو شعري او ادبي او ذوقي او فني ښېګڼو سره دخپل سياسي او اجتماعي محيط پر ناوړو او ناخوښو باندي ګوتي ږدي او د اوږ په څېر سوځونکی انتقاد پر کوي. دده اجتماعي کره کتنه د پښتنو پر ټولنيزو ناوړو دودونو او دژوندانه پر کرغېړنه بڼه او قبيلوي بيلتون او خوي او خلق باندي ګذارونه کوي. چي د همدغو ناوړو په سبب پښتنو خپل ګرده ګټلي بايللي او د نورو په لاس کښي محکوم سوي وو:

که ربښتيا وايم شيرشاه دا هسي نه وُ
لکه موږ يونه پيدا له کوهستانه
پښتانه چي بې ننګي کا څوک ئې څه کا
ګورستان لره به درومو له ارمانه (کليات ۲۷۲)

خوشحال په يوه قصيده کښې دهند د اسلامي سلطنت دوره او په هغو کښې د غلجو او لوديانو او سوريانو پښتنو برم يادوي (ص ٦٦٨ کليات) خو دده د وخت د پښتنو رالوېدلې حال دا ؤ :

پښتانه دي ننګه وباسي له دله
اوس ترلې دمغل داثر په خوند دی
(کليات ۱۰۰۵)

که په نور خلکو کې ښه سړی موندل سي
ولې ښه سړي به لږوي افغانان
هره چاره د پښتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ور څخه نسته ډير ارمان
د بهلول او د شېرشاه خبري اورم (۱)
چي په هند کې پښتانه وو پادشان
شپږ اوه پېړۍ ئې هسې پادشاهي وه
چي په دوي پوري درست خلک وه حيران

د خوشحال خان د نقاد طبيعت خاصيت هم دا دی چي دی "واقعيت" پلټي د ماضي واقعيت خو تاريخ دی چي دی ئې نه هېروي او پښتو ته تېر برم او د هند د غټې سيمې خو پېړۍ سلطنت ور په يادوي خو د هغو پښتنو او دغو "د مغلو پرامش ترلو" پښتنو تر منځ د مځکې او آسمان فرق ويني

يا هغه پښتانه نور وو دا څه نور سول
يا د خداى دى اوس دا هسي شان فرمان

بيا نو دکار چاره او نور شودناروغی درمل هم ورنيسي چي :

که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره سي په دا ځوان
(کليات ۲۵۲)

پخواني پښتانه د لوړ همت او عالي نظر خاوندان وو او دهمدغو



سجاياوو په برکت ئې د خپل عصر لوړ پوړ ګټلي ؤ دوی جهانګيران وو، خو جهان وژونکي نه وو، سلطان پيروزشاه غلجي په (٦٩٨ ق = ۱۲۹۸ م) د هند د ګواليار په بوښوکښې د پردېسانو لپاره يو هوساتون جوړ کی، او هلته ئې دغه فارسي بيت وکيښ چي دده انسان دوستي او د جهاندارۍ عالي احساس ښيني خرګنديږي :

اين سنګ شکسته زان نهاديم زدست
باشد که شکسته يي درو آسايد

سلطان بهلول لودي د خپلې جهاندارۍ او عدل و داد او دمملکت د زرغونولو اراده داسي ښکاره کوله :

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه
ګوره اوريځي د داد له پاسه
خول مي د عدل په در ورون دی
جهان به زېب مومي زما له لاسه (۲)

خوشحال خان د پښتنو د داسي عالي اخلاقو په فکر کښي ؤ، خو چي دغه ښېګڼي اولوړ فکرونه ئې په خپلو معاصرو پښتنو کښي نه ليدل. نو هسي انتقاد ئې پر کاوه چي د ودي راغورځېدلي او راکښته سوئ روحي حالت خرګندوي :

پادشاهي ئې دمغل په زروبايله
د مغل د منصبونو په هوس دي
اوښ له باره پخپل کور کي ورغلي
په اولجه د اوښ د غاړي دجرس دي
سر ئې هوري کندهار بل ئې دمغار دی (۳)
تر دا منځ همه ميشته واړه عبس دي
(کليات ۳۹۳)

کله کله دخوشحال خان حساس طبيعت ښوربنت کوي او پښتنو ته ئې خورا قهر راځي، نو ئې د انتقاد ژبه لاتيره اولهجه ئې داسي توجه کيږي :

چي د روه په ملک کي ښه پښتون ياديږي
نن مومند ، بنگښ، ورگــــزيه، افريدي دي
د مومندو سپي بــــــــــهتر دي تر بنگښو
که هزار ځله مــــــــومـــــند بتر سپي دي
هرچي ښه د پښتونخوا دي حـــال ئې دادی
هغو بدو ته ئې خــــــوک وايي ســـړی دی
له ژونديو پښتنو ښېــــــــــگنه نســـته
هر چي ښه وو هـــغه کُل د گـــوربندي دي

(کليات ۱۰۰۴)

د خوشحال خان د اجتمـاعي انتقـاد موخـه ټـول پښتانـه خـاص خاص قومونه او ټبرونه، اشخاص، ملکان، روحاني نما پـيران، او خپلـه کورنۍ ختک او خپل زامن هم دي لکه :

دريغه يو پکښې شهباز سوی يو خوشحال سوی
شل پنځه لرم همه صغـــــــــــــــير، کبير
مشران ئې د شرې گـــــــــــــــنده بشم
کشران دي په مثــــــــــــــال اومه حرير

(کليات ۵۹۹)

دغه انتقادونه چي کله سپکه اود غندنيلهجـه هـم مـومي. گـردو پښتنو ته له اټکه تر سواته بيا تر کندهار متوجه دي. او دا هغـه وخـت د سهلو وړ دي، چي سړی د ده انتقاد پر خپل ختک ټبر هم ولـولي او دا واوري چي :

"آشنايي ښه ده بې ختکه"

يا :

درست جهان په ناپوهانو سره ډک دی
ولي زيات که پکښي وگوري افغان دی



خوشحال د پښتنو ناروغي داسي تشخيص کړې وه، چي په تـاريخ کښي ئې ډير مظاهر ليـده سـي. او د دوی د بدبختـی او کښتـه والي علت العلل هم دغه دی :

پښتانه واړه بد خــــوي دي
کوره په گور کاندي غورزي
يو چي سرکانـــدي په پورته
بل ئې ووهــــــــــي مغزی

(کليات ۱۰۲۵)

د خويو او افعالو پر ځای کله کله د ظاهري ژوندانه دغـه سـربېره جوله هم غندي لکه چي وايي :

يوسفزيه ډير چرکين لـــــرې ځايونه
آلوده گنده بدبويه لــــــــکه سرايونه
څو سرې هومره ئې سپي په هره خونه
په انگړ کي ئې چرگان گرزي سلگونه

(سواتنامه ۳۰)

د خوشحال خان اجتماعي انتقادونه اکثر هغه رياکارو او ټگانو شېخانو ته متوجه دي چي د حاکمي طبقې سره شريک او مله وو، او د آزادو پښتنو د پاځون مخه ئې نيوله او په روحاني چوخه کښي به ئې خلک تالا کول. د سوات ملايانو ته داسي گوته نيسي :

عالمان ئې همـــــگي واړه سفيه دي
نه عالم دی نه فاضل دی نه فقيه دی
کتابونه په سر کيږدي ځان مـــلا کا
په هر کلي ملحت گرځي تکي غـلا کا
کښېني شرع پرېکوي په رشـــــوتونو
ځان قاضي کا په غلط روايتــــــــونو
وهر چاته مسئلې د سخــــــاوت کا
خپله خونه ډکوه بله غـــــــارت کا

په مسجد راځه پنځه وختـــــه آذان کا
چي زکات سرسايه نه وي مسجد وران کا

(سواتنامه تر ۱۹۱ بيت وروسته)

دغه تګان خو خلک غولوي د اسلام د اصلي ښېګنو څخـه ئـې را اړوي او د لنګي غوا په څېر ئـې لوشـي. اول ئـې بېـروي بيـا ئـې نـو راپېرزوي :

په دا عام وګړي هسي هيبت کښېـــېږدي
چي ددوي په رضا ځي هر څه په پرېږدي
چي څه ترس له خدايه نه کاندي غـلـول کا
آس به پرېږدي زين به باندي په جـاهل کا
نه ئي کښل زده نه لوستل زده تل تېکل کا
تعويذونه ورکوي په دروغ کښـــــل کا
په دا هسـي علم برند کښينـــي ملا سي
وعالم ته ميراث خور د انبيــــا سي

(سواتنامه)

د خوشحال خان ادبي او تلقيني مبارزه له دغسي تګـانو سره وه چي د روحاني رهنما په لباس کښي راوتل او خلک ئي غولول. او کله چي خوشحال خان د خپلي فکري ودي سره سم د خلکو تـر څنـګ ودرېدی اوخپل مزي ئې د حاکمي ډلي سره وشلول څکه چـي دغـه طبقه زيارکاران د حاکمانو پر خوا وه. او د مغولو پـر آش ئـې شخوند واهه او منافع ئې سره يو ؤ. نو زمـوږ شـاعر دخپـل تېـره قلمـه سـره د توري په رُڼا کښي د دواړو ډلو مخي ته د مبارزې پر ډګـر ودرېـدی او وې ويل :

مدعي سره دخداي دپاره بــــــد يم
آلوده نه په غرض نه په حســــــد يم
چي دا هسي عالمان هسي شېخان سته



په جهان کي بدان ډېر دي لږ نيـکان سته
ددنيا حرام حلال وبله نـــــــــغاړي
هغه واړه مدعي دي : چي خداى غواړي
په دروغ په بې شرمی عمر تېـــــر کړي
په روش د ګدايي ئې مال ډېـــــر کړي
د هغو به څه طاعت څه عبــــادت وي
هغه کوم به ئې دعلم برکـــــــت وي
لمونځ روژه چي د ريا دپــــاره کيږي
له اسمانه به لعنت بانـــــدي اوريږي
چي دخلک قبـــوليت ئې په غرض وي
دهغه طاعت طـــاعت نه وي مرض وي

(سواتنامه تر ۳۳۴ وروسته)

**(۲) سياسي انتقاد** :

د اوولسمي پېړی په وروستنی نيمايي کښي د پښتونخوا لوېديځ او ختيځ اړخ ته د هند او د ايران په ارتـو سيمو کښـي بـډايي بـاداري نظام خپلي جګي څوکي ته رسېدلی ؤ، يـوې خواتـه د لـويي مغولـو ستري واکمنی (امپراتوری) په ډهلي کښي غوړې وهلې. لوېديځ پلـو ته صفويان تر مرو اوکندهاره زور چلاوه په شمالي څنډو کښـي هـم د اُزبکو مشران په باداري نظام کښي پخـډل او د آمـو هـا خواتـه ئـې کورنی جوړولې نو په پښتونخوا کښي هم لږ ؤ ډېر د بډايانو کورنی په دربار پوري ترلي راشني کېدې، او په دې ډول پـوړيز ټکرونـه او ډلـه ييز ډغري هم را څرګندېدې.

پښتون اولس دلته يو نونځه او بې سبکه ټبر د درغښتاميو او مروچو پاچهيو تر منځ پـروت ؤ او خپلـه آزادي بـه ئـې خمکـو او سـردرو پـه سيوري کښي خوندي ساتله او که بـه لـه يـوه پلـوه ددوي آزادی تـه

سترګي سرې کېدې نوبه ئې ډغري ورسره وهلې، او ددوي تاريخ په دغو دورو کښي د ښوزلو اما آزادي غوښتونکو خلکو ډغري دي د غښتليو او پخپل زور سترو امپراطورانو سره داکبر او اورنګزېب يا صفوي غوندي مروچو شاهنشاهانو سره.

کله چي د زور زياتي او استعمار جګړه له مظلومو آزادي خواهانو سره په ډله ييز ډګر ونښلي نو دلته د خپل ټبر د ډله ييزي غوښتني سره سم ځيني خانان او بډايان او دا لا څه کوې چي د خانقا په ګوټ کښي ناست پوټي روحانيان او صوفيان هم ( لکه پير روښان او خوشحال خان) د ډغرو پر ډګر توره په لاس د روي او دا د يو قوم هغه روي اواقتصادي اجتماعي غوښتون دی چي تل خپلو او پر سرتېکېدلو ټولنو کښي ځيني ملي غورځنګونه راپيدا کوي.

خوشحال خان خو په لوي سر کښي د يوې بډايي کورنۍ ځخه راوتلی سړی ؤ مګر دی له خپل محيط اواجتماعي چاپېر او دخپل ملت دغوښتنو ممثل هم ؤ دغو ملي غوښتنو تر دمخه روښان پير هم دمبارزې ميدان ته راايستلی ؤ.

شيخ په ګوټ کښي ناست دی چي دنفس سره غزا کړم
چي سـي تورو ته ور وړانـدي غـزا داده

خوشحال خان خو د مغولو د دربار يو توريالی خدمتګار ؤ د ده کورنۍ د تاريخ مرصع په قول ( ص ۲۷۸ ) "دولت خواه" ؤ پلار او نيکه ئې هم د مغولو له پلوه نيلابه او خيراباده تر نوښاره پوري دسيمي خاوندان وو (مرصع ۲۶۵) او دمغلو لپاره به ئې دکابل لار ساتله او دنورو پښتنو قبيلو سره به ئې دمغولو په وسيله جنګونه کول چي ددغو قبيلوي جنګونو او وزغلونو پيښي په تاريخ مرصع کښي ډيري څرګندي سويدي.

خو کله چي د اورنګزېب پاچهي د پښتونخوا پر سيمو باندي له کندهاره تر اټکه راخپرېده او خوشحال خان هم د ګردو پښتنو د يوې



ګډي غوښتني او غاويه خاطر ددې ملي پاڅون او پيښي غورځنګ په سر کښي ودرېدی او داسې ويل :

درست پښتون تر کندهاره تر اټکه
سره يو دننګ په کار پټ واشکار

(کليات ۵۹۲)

دلته نو اوس د ده مشري مقام او د شاعر په څېر د خلکو د ښوونکی او رهبر په ښه دا تقاضا وه چي د زړو ناولو څخه لاس واخلي او د ډهلي دپاچهانو په ګټه خپل کور وران نه کی او د خپلو ښوزلو او آزادو پښتنو سره ونه جنګيږي. پر خپل پخواني حال او د ډهلي د پردي دولت پر نوکرۍ او دولت خواهۍ پښېمانه دی او داسي وايي چي دغه يو تريخ اعتراض او پر ځان انتقاد هم دی :

د مغل نمک مي وخـور شپږ پېړۍ
ما د زرو پکي روغي کړي پېړۍ (۴)
رعيت مي يوسفزيه ! درست ختـک ؤ
په عزت او په حرمت کي مي څه شک ؤ
دمغل دپاره ما توري وهـلې
پښتنو به راته کړې ډيري ښـکنځلي
پښتانه مي په زرګـونو دي وژلي
په سرونو به ئې خره غوايه وولښلي (۵)

(سواتنامه تر ۴۲ بيت وروسته)

د خوشحال خان د تش فيوډالي ژوندانه دغه جوله خو ډېره کرغېړنه او ناوړه ده چي پښتنو به نور څه (يعني آزادي) غوښتنه او دی به ئې (ښکانځه) خو دی ( په سره اور) کښي ولاړ ؤ او خپل ملي وجدان دی محاکمه کاوه نو ځکه به (تلافي) په هڅه کښي دده د ژوندانه يوه روښانه پاڼه را واوښته د پښتنو (خان او ملک) خو ؤ اوس نومشر او رهبر هم سو او (د واړو پښتنو) په ننګه ودرېدی پخپله وايي :

ناګهانه په دا ملک فساد بنیاد سو
د ما هم د "تلافي" کار په یـاد سو

نن د وارو پښتنو په ننـــــګ ولاړ یم
دا چي هسي په هر در هر درنګ ولاړ یم
چي پښتون سوم په داهسي سپینـه ږیره
نور مي خدای مه کړه مغل وایم پـه خیره

(سواتنامه تر۲۸ بیت وروسته)

دلته نوهغه خوشحال خان :

چي منصب مي د مغل خوړی یو ملک وم
چي منصب دمغل نسته اوس مـــلک یم

په رښتیا هم په لوړو خیالاتو کښي لوېدلی ؤ اوس ئې نو د پښتنو د سر وهلو او ټکولو پر ځای د دوی د آزادۍ نقشه پخپل خیال کښي سره راټرلې او دخپل آزاد وطن (پوله) ئې ټاکله :

و مغل وته به نن کــــرم اټک پوله
ملک به خلا کړم دمغل له غاله غوله

(سواتنامه ۹۰ بیت)

د خوشحال خان د شخصیت په تحول کښي ۱۰۷۸ ق کال ډېر مهم ؤ ځکه چي د هندوستان تر قید وبند وروسته چي د ملک د بندوبست مصلحت سره وکړی خو خوشحال خان پخپل بیاض کښي کښلي دي چي " ما خو یوه زړه کښي نیولي وه د مغل د نوکرۍ مګر مي زړه کښي شلولي وو او دا رباعي مي په پارسي ورته وکښله :

ګفتم که مغل شوم به شمشیر زدن
افغانرا که بس بریدم ګـــــردن
آخر نشدم مغل همـــان افغانم
حیفست زکس کوشش بیجا کردن



(تاریخ مرصع ۲۹۹)

د یوې ټولنې پـه اجتماعي جوړښت او ودې یـز تشکیل کښي محیطي او زماني تقاضاوې دغسي بدلون راولي چي خوشحال خـان نو اوس د خپل بې وزلي اما آزادیخوا قوم په سرکښي د مغل مخي تـه نېغ درېږي او "اټک خپله پوله" ټاکي :

اوس نو یوې خواته خوشحال خان د خپلي تـوري او قلمـه سره ولاړ دی بلې خواته د مغلو غټ امپراتور اورنګزیب چي دسیاست په څپو کښي ئې پر خپل پلار او ورور لب نه دی کړي او ټـول هنـد ئـې تر ګونډو لاندي داسي سره مروړلی دی چـي هیڅـوک سر نـه سـي پورته کولای. خوشحال خان د داسي یو مروچ شهنشاه سره په توره او قلم ډغري وهي . د ده جهانداری لار او لیکه غندي ظلم او تېری ئې رسوا کوي مثلاً وایي :

په دوران ئې درست جهان سره ګډوډ سو
ته به وایي زمـــــانه سوه د دجـــال
چي په خپل بابا ئې نه ده ضـــرفه کړي
د جفا ئې په دا نـــورو څه اهمـــال

(کلیات ۶۱۱)

اورنګزیب په ښکاره یو زاهد دیندار او متقي سړی ښکارېدی خـو په ریاکارۍ کښي ئې تکره لاس درلود وایي چي ده بـه قرآن شریف کیښ او خطي نسخې بـه ئې پـه بـازار کښـي خرڅـولې او پـه هغـو حلالو پیسو به ئې خپله نفقه برابروله او پـه دې ډول بـه ئـې خلک تېر ایستل. دریاکارۍ دغه بازار دده پـه زمانـه کښـي خـورا تـود ؤ هرڅا به تزهد او تقوا ځان ښکاره کـاوه. خوشحال خـان دغـه د ریا پردې داسي څیري :

وخت د اورنګ شــاه دی
د هرڅا تسپې په لاس دي

خداي ځيني خبـــــر دی
په اخلاص که په لبـاس دي
(کليات ۹۷۰)

په يوه بله قطعه کښې دغه انځور داسي راکاږي :

تفاوت دخپل پردی وربـــــاندي نسته
که ئې گوري اورنگزيب پادشاه گمراه دی
که وته ئې گوري بـــــــــويزيد دی
که طاعت وته ئې گوري اهـــل الله دی
د اورنگ پادشاه په دور آرام نســـــته
چا ويل چي جهان ځای د آرامـــگاه دی؟
لکه مخ دپاسه تور سيـــــاه ليده سي
اندرون ئې هغه هســـــي تور سياه دي.
(کليات ۹۷۱)

په دې قطعه کښې ئې هم د اورنگزيب رياکاري او د قرآن شريف ليکنه او په رکوع او تسبيح مشغولا په داسي توگه رسوا کوي :

ددې دور شېخان ډېر دي لـــــور په لور
اورنگزيب پادشاه د واړو دی انــــځور
په هغه چاره قلم ساز کــــا قرآن کښي
په هغه چاره ښهرگ پرې کـــا د ورور
په رکوع کښې تسبيحات دپلار د مرگ کا
په سجود کي زوروي خپــله مشره خور
(کليات ۱۰۳۴)

په بله بدله کښې وايي :

رامعلوم سو د اورنگ عدل وانصاف
دده ښه مسلماني ښه اهتـــــکاف
سکه ورونه وار پـــه وار واره وژلي
پلار په بند کي اچــولی په مصاف



د پاچا ددغي رياکارۍ سره نورو زاهد وشمو رياکارانو ته هم ښه موقع وه چي خلک وغولوي خوشحال دغه غله هم په ښکار غندي او خلکو ته ئې ور ښئي :

هسي غله راگډ سول په دا دور آخـــــرين کي
چي فيل له انبالۍ پټوي په خپـــــل استين کي
زرداني تسپې لري شملې دو روستو پريــــــږدي
لوي کتاب په لاس کي بل سيال نه گڼي په دين کي
(کليات ۱۰۴۵)

د ډهلي امپراتورانو دربار خو د جهان خورۍ په رنځ اخته وُ او مړښت ئې نه درلود. له پښتنو سره ددوي په غرنۍ سيمه کښې مغلو د لښکري ډغرو خوند څکلی وُ، نو ځکه ئې د هر استعماري او متجاوز قوت په توگه په پيسو خرڅولو او لمسون په دوي کښې بيلتون اچاوه او خوشحال خان په (۱۰۸٦ ق) کال دغه حال داسي ښوولی وُ :

خزانې د هندوستان دي راخپرې سوې
سره مهران دي ننوزي په کــــوهسار
(کليات ۵۹۳)

پښتانه خوتر ډېره وخته د پاچهانو د دې سياسي لمسون اوبدو څخه آزاد وو او له اکبر پاچا او جهانگير سره ئې ډېري خپرې لگولي وې. خـو وروسته د مقامي سازش کارو بدايانو په وسيله د پاچهانو د جهانخورۍ جوغ ددوي څټ ته هم راورسېدی چې په لومړي وخت کښې خوشحال خان هم په دغه بلا اخته وُ. خو ده د خپل هوش او عقل اوملي شعور په برکت د مغلو منصب خانته عيب وگاڼه خپل قومي وجدان دی وتراته نو ئې په ژوندانه او هنري تخليقاتو کښې هم يوه نوې پانه راواوښته او په داسي ترخو اعترافاتو کښې ئې پر خپل خان هم د سياسي انتقاد دور پرانيست :

د مغلو زيست رُوزګار را باندي اور ؤ
په صحبت ئې زما رنګ لکه تور سکور ؤ
را په غاړه د مغل منصب په زور ؤ
ته وايي چي منصب نه ؤ سور اورؤ

(سواتنامه ۵۸)

پښتانه وايي : "د ورځي ورک چي ماښام کورته راسي هغه ورک نه دی" نو خوشحال خان چي دده په قول ( په سپينه ږيره پښتون سوی ؤ) په سياست او اجتماع او ادب کښي د يوه تکړه نقاد په توګه ځان را څرګند کی، نه يوازي د مغلو له درباره ووت بلکي د پښتنو د ملي نهضت رهنمايي هم د اورنګزيب په مقابل کښي پر غاړه واخيسته او مغل پرستان ئې داسي د کره او جوته ښووني په ميدان کښي بربنډ درول :

د مغل په طباخ ډير يوسف مندن دي
لکه وږي مچ ډيرېږي درنګ په درنګ
که کعبه کي ئې قبله ده خوتنګه ده
په پيسه پسي به درومي تر فرسنګ

(کليات ۱۰۳۵)

يا :

پښتانه لکه مګس وربانـدي ګرزي
ورته ايښي د مغل د حلوا تال دی

(۳) **ادبي انتقاد** :

د پښتنو د مدونو يا شفاهي ادبياتو پانګي ته که سړی ځير سي او په کره سترګه ورته وګوري په لومړی کتنه پر دوه ډوله (منثور ـ منظوم) ادب وېشل کيږي خو دا وېش دقيق نه ښکاري او کره کتونکي ته يو لطيف او فني ذوق يا فني طبيعت ARTISTIC NATURE بويه چي تراخه له خواږه او رانه له تيارو څخه رابېل



کاندي. د فني ذوق په حکم به ډېر آثار تش منظومات وي خو شعر به نه وي او ښايي چي ځيني آثار هم منظوم وي او هم شعر. او ډيري منثوري ليکني به وي چي سم او د ژبي پر دود او دستور برابر نثر به نه وي او ښايي چي ځيني منثوري ليکني به (شعر) هم وي.

له د يوې ادبي وړ (اثر) لپاره چي ښه او وړ قالب FORM او په زړه پوري محتوا FOND په کار دي نو د يوه ليکي يا شفاهي اثر درناوی او ارزښت هم په دې کي دئ چي څه وايي او څنګه ئې وايي فني ذوق د يوه اثر د قالب او محتوا ارزښت ټاکي چي يوه پخواني نقاد محمد بن سلام (۱۵۰ ـ ۲۳۲ ق) په طبقات الشعرا کي د (صناعت او ثقافت) په نومونو ستايلي دي. يوه نقاد ته بويه چي ګرده حواس ئې د کره کتني په کار کي تکړه او چمتو وي.

مثلاً که څوک و غواړي چي مرغلري او ياقوت وپېژني دغه په تول يابوي نه کره کيږي تر هغو چي په کره سترګو ونه ليدل سي دغسي هم کره او کوټه روپۍ نه پېژندله کيږي تر هغو چي يو نقاد ئې تشخيص ونه کړي، د خرما يوه ونه هغه وخت ښه ونه بلل کېدای سي چي د مېوې رنګ او خوند ئې وکتل سي.

پېغله خو په سپين باړخو او سپين تندي او توږ پيکي او ملالو سترګو او سرو د مسا ډکولو شونډو او خوږه ژبه ستايله کيږي خو په دغو صفاتو کي يا د هري پېغلي ګرانښت جلا وي او د ښکلا مرتبه ئې بېله وي.

که په ډېرو سپين روپو کي څوک يوه خوښه کړي او بيا صراف هغه روپۍ کوټه او ناچله وګڼي نو يا د سړي ټاکنه او غوره کړنه به هغه کوټه روپۍ سوچه او د چلند وړ وګرزوي.

د نقاد لپاره پر فني ذوق سربېره دا هم ضروري ده چي خپله شخصي او توزنه هيله ونه لري او د انتقاد کار تش د حقيقت پلټني او انصاف په رڼا کي کوي عربی شاعر ابن دريد (مړ ۳۲۱ ق) ويلي وه :

واته الرای، الهوی، فمن علا
علی هواو ـ عقلهٔ قـدنحا

يعنی هوا او شخص غرض درې وهلو لپاره اېت دي څوک چي پر غرض برې مومي هغه بريالی دئ، په نقد کي که غندنه (هجا) عربـده يا تقليد يا جمود يا اسراف او تېرې مطلب وي نو فاقد ښـو هـوي او د کره کتني له اصلي موخي مخ بلي خواته راګرزوي.

کره کتونکي بايد چي دقيق او خير وي پر موضوع بشپړه احاطـه ولري د ويښو او ليدونکو سترګو خاوند وي وګوري، واوري، وپوهېږي او وپلټي بيا نو په پوره زړه حکم صادر کي.

د خوشحالخان پـه اجتمـاعي او سياسـي انتقـادونو کـي خـو يـو واقعيت پـروت دئ چـي دی پخپلـه د اجتمـاع او طبقـاتو لـه منځـه راوتلی سړی وُ د خپلي ټولني وړي او ناوړي ګـرده ور معلـومي وې د عصر په سياست او دربار او حاکمو طبقاتو کي هم پخپلـه محشـور وُ د روغـي او جـوړي جرګـي د ګـړي او ډغـرو ميدانونـه د حاکمـانو او درباريانو مهرباني او قهرونه د دربارو او جيلښانو غيشـونه او عذابونـه د بري او ماتي خوندونه او بد خوندی ئې نغښتي ليدلي او څکلـي وې، نـو ځکـه دده پـه انتقـادونو کـي اجتمـاعي او سياسـي واقعيتونـه راځرګنديږي. خو د ادبي انتقاد پر ډګر هم دی خبرلـوخ او خـير او د نظر خاوند سـترګه ور ښکـاري. دی د سـليم ذوق خاونـد او د شـرقي ادب حاوي وُ او د جامد فکر په فمن کي رانغښتی مقلد سـړی نـه دئ په پښتو ادب کي خلاق او نقاد طبيعت لري او دده هنري آثار د پښتـو ژبې شملې دي.

د ۱۰۸۱ ق د صفري په مياشت خوشحال خان يو ښکلـې او خـورا فصيحه قصيده ويلې ده چي په هغي کښي ئې لږ خاشـه خپلـه هنـري مفکوره ځرګنده کړې ده له شلو کالو څخه په شعر ويلو پيل کـړئ وُ خـو پـر شپېتم کال خپل شعر پوخ ګڼي يعني تر څلوېښتو کالو زده کړي وروسته :



په شل کاله کي دېګ زما د شعر په اور ريارشو
په دا دور مي پوخ کړ چي شپېته کاله مي تللي
(کليات ۷۰۰)

شعر خو يو هنر دئ او هنرمن چي هر څـوني تکـره وي پـه هغـه ټکانه د خپل هنر رنګ او خوند ساتي او ناپسندلي نه وايي :

که شعر ته نظر کړي پخپل اصل کي بد نه دي
بد دا چي څوک په شعر کي ويل کا ناپسندلي

تر خوشحال خان د مخه ډېر ناظمان تېر سوي وو چي شاعران نـه وه مثلاً ميرزا خان انصاري (مړ ۱۰۴۰ ق). چـې تـر خوشـحال خـان د مخه څه ويلي دي هغه خو د خوشحال خـان پـه کـره کتنـي کـه نـه دوني ارزښت لري چي تر مېزان لاندي دي :

د چا نه په پښتو کي ما مېزان ليدلئ نه دئ
ميرزا په دا زيان کي ويل کـــړي دي تللي

د پښتنو په پوړيزه وده کي تر خوشحال خان دمخه د پير روښـان او درويزه ډغرو يو ډول ناپسندلي يا ناوړه ادب زېـږولئ وُ او محصـول ئې خيرالبيان او مخزن الاسلام غوندي کتابونه وه چي هنري ارزښـت نه لري او د خوشحال خان "فنی ذوق" لـه ادبـي پلـوه دواړه پـه دې ژبه انتقاد کړي دي :

درويزه له يوه لوره راپيـــــــــــــدا سو
په لږ علم په دا ملک کي لوی مـــــــلا سو
د روښان خيرالبيان ئې وُ ليـــــــــــدلئ
هغه هم مجهول بيان وُ "ناپسنـــــــــدلئ"
ده چي خوشي ميدان بيا موند سخنګوی سو
په ويل کي ئې چي زړه وُ هسي تـــــوی سو
درويزه چي بيان کړئ خپل کتـــــاب دئ
نوم ئې مخزن الاسرار کړئ جنـــــاب دئ

هر بیان ئې ناموزون مجهول بې رنگه
خالي پاتو له دانشه له فرهنـــگه
که یوه مسره په شل بله په ســـل ده
نامربوطه ناموزونه په ویـــل ده
مسالې ئې نظم کړې په پښتـــو دي
درته څه وایم چې څه دي د یستو دي

خوشحال خان خو پـه دې ډول د روښـان خیرالبیـان یـوازي لـه ادبي پلوه مجهوله او ناپسندلی ګڼي خو د دروېزه بیان هـم نـاموزون، مجهول او بې رنګه بولي او د مثال په توګه په مخزن کې د بوصیري د عربي قصیدې ترجمه ښئي :

هر هر بیت د قصیدې چې در مرجان دئ
په پښتو کې تر اوربشـــو لا ارزان دئ

رشتیا هم داده چې د خیرالبیان او مخزن ادبي پلو یعنـي د لیـک سبک او قالب خو د پښتو ژبې د نظـم او نثـر یـو نـاوړه بـې خونـد او ناخوښه ډول دئ چې د ذوق او هنر خاوند شاعر لکه خوشحال خـان ښه په پوهېږي او دا چې په هغو وختو کې د پښتنو پوهه کمه او ادبي ذوق ئې کورو وړ ؤ نو دوی د دروېزه مخزن خوښاوه دا خـو پخپلـه د دروېزه هغه غولوونکئ اثر ؤ چې خوشحال ئې داسي تحلیل کوي :

په حیرت به واړو ګوتي وچیـــــچلي
د اخون په مخزن چا ګوتي کښېښــــولي
ګندېز د ګنده خور سره جـــــورېږي
خاص په خاص اوعام په عام ویل خوښېږي

بل ځای دغه بې ذوق او ادبي ړوندوالی داسي انتقاد کوي :

که ژوندی سي افلاطون
په سوات ونیسي سکون



اکوزیو ته بیـــــان کا
کتابونه د فنـــــون
دوي به وایي چې دا څـه دي
مخزن ښه دئ د اخـــون
نیشکر به غوایي څـــه کا
په واښه ئې دئ ژونـــدون

(کلیات ۱۰۰۴)

دا چې د پښتنو ادبي ذوق ولي ناپسندلي ؤ بيا ئې هم علت هغه سیاسي بلاوي وې چې د تیموریانو د امپراتورۍ له خوا پر دوي باندي د یوه غالب استعماري قوت په توګه کوترم سوي وې او دوي فرصت نه درلود چې له جنګړېزه ووزي او د ژوندانه د چارو په سمولو بوخت سي. د جنګ په میدان کې خو ذوق لږ روزل کیږي.

د خوشحال خان انتقادي نظر د ادبي آثارو هنري ارزښت ته خیر دئ ادبي پانګه سره تلي او هر اثر ته یوه درجه ټاکي ځکه چې دی لوی فنان او د انتقادي ذوق خاوند او د پښتو ادب یګانه استاد دئ نو ئې دغه تلنه او ټاکنه هم سمه او د منلو وړه ده د انتقاد په دقیق مېزان کې دی د ادبي آثارو دروندوالی داسي ټاکي :

چې لاف وهي د شـــعر
نن په دا دور دي ډیـــــر
خداي دي نه کـــا چې به وایم
حــــــال د دویو تېر و بېر
ځوک پاوی ځوک نیم پاوی دئ
قلندر پـــــکښي نیم سېر
د موړه په حســــاب دئ
هیڅ مي نه دئ واصـــل هېر
بل دولت فقیر دري پـــاوه
زه ترې څو شاهي تــــبر

چي په سرای کي به پيدا سي
پســــــله قرنه پوره سبر

(کليات ۹۸۴)

د خوشحال خان په نظر کي د شعر قالب او محتوا دواړه ارزښت لري محتوا لالونه او مرغلري گڼي چي په ښــه ډول پيیلــي ســويدي او دا ښه پيیل هم يو هنر دئ، دی وايي :

لعل و در مي ورته وپييل د نـــــظم
د مشکنو بنجاره مي مستمنـــــد کړ
هر کلام مي واردات دي يا الهام دي
چي موزون مي په تقطيع د بحر بند کړ

(کليات ٦٠١)

دانايي علم و حکمت پکښي زياتيږي
ځوک چي ښه وکا د شعر استـــعمال

دا د شعر محتوا يادوي خو د شعر تنسته هـم بويـه چـي ښـه وي يعني قالب او د ويلو شکښ ولري :

د خبرو تنستي چــــــي واودي سي
ځوک اطلس وودي په شعر ځني شال

(کليات ۹۰٦)

که اطلسي تر شړی ګران وي نو توروې يا ترخې اوبه هم د خوږو اوبو سه نه سي پرتله کېدای :

د شاعر ويل اوبو سره نسبت کړه
توروي تريخي اوبه يا خوږې زلال

تر خوشحال خان دمخه او يا دده په زمانه کي هم شعر د شاهانو د دربارو په کرغېړن ماحول کښي رانغښتی سوی او يوه لويه برخه بـې خايي ستاينې ته وقفه وه. هر شاعر چي بـه (کـذب) وُ د هغـه هنـر بـه (احسن) وُ او جايزه به ئې غټه وه :



در شعر مپيــــچ و در فن او
چون اكذب اوست احسن او

خوشحال خان د خپل هنر لپاره دغه معيـار نـه منـي او وايـي : د هغه شاعر مخ تور سه چي په طمع و هر در، رهبر او دربار ته ولاړ وي.
يا :

د هغه شاعر داني وســـــه په ژبه
چي د شعر در داني پلوري په مال

(کليات ۹۰٦)

خوشحالخان ليدله چي د پښتو ادبي ذوق دده په عصر کـي نـوخه وه او دده د هنر په خوند نه پوهېدل خـو د ده د انتقـادي ذوق معيار په دې ټوټه شعر کښي وښود، چي عام فهمه مثالونه دي :

که زما ژبه پښتـــــــو ده
په پښتو وايم خــــــبري
يو پښتون رانه ښــکاريږي
چي پرې پوه سي نژدې ليري
په خوږوالي کي ئې فرق دئ
ښه تر ګوړو دي شـــکري
ګبينه لـــــــري مچې
ډمبکې (۶) لــــري بنبري
له يوه دريابـــــــه خيژي
مرغيپچي مرغــــــلري
تفاوت ئې تر منځ ډېــر دئ
په قيمت دي سره لـــيري

(کليات ۹۷۷)

## (۴) نتيجه

د خوشحال خان د شخصيت په تجزيه کي دوه بعـده پـه ښکـاره توګه خليږي :

لومړی :- دده ادبي (قلمي) بعد چې د شعر او ادب په وسيله ئې د پښتنو د اجتماعي ودې يوې دورې ته داسې کار کړئ دئ چې تر ده دمخه يا وروسته بل چا نه دئ کړئ ده يو ادبي مکتب تاسيس کړئ چې د پښتو ژبې نظم او نثر ئې پر بله خوا راواړاوه محتوا او قالب ئې وربښايسته کړل چې تر ده وروسته دغه سبک په خټکو او نورو پښتنو کې وروزل سو او مؤسس ئې خوشحال وُ. په شعر کې ده انتقاد په پوره توګه راوارد کړئ او د ژوندانه لپاره ئې يو مفيد او ګټور عنصر ځيني جوړ کړئ چې هم ئې هنر د هنر لپاره او هم ادب د ژوندانه لپاره ګڼلای سو. خوشحال خان په دغه ادبي زيار کې پوره کامياب هم سو ځکه چې دده د هنر شيوال داسې ځلاند سو چې وروسته ډېرو شاعرانو او ليکوالو په نظم اونثر کې دده پيروي وکړه او د پښتو ادب نوې خلا او رڼا ومونده. که د خوشحال خان دغه ادبي بعد او هنري لياقت نه وای نو به اوس موږ د نظم او نثر له ډېرو ښېګړو او شهبارو څخه محروم وای.

کتلمې مې ورته سازي کړې د قندو
د اوربشو په ډوډيو چې چا خوند کړ
(کليات ۶۰۰)

د خوشحال خان په زمانه کښې پښتنو د خيرالبيان او مخزن الاسلام په نامه دوهٔ کتابونه په خپله ژبه کښې پېژندل او دغه غير طبيعي مصنوع او ناوړه سبک چې خوشحال ئې اوربشينه بولي دوني عام سوئ وُ چې د خوشحال خان په قول :

په ويل د دروېزه عقيده څومره
لکه عين په آيت په حديث هومره (سواتنامه ۴۴۴)

مګر خوشحال خان خو د فني ذوق او پوهې خاوند وُ ددې سيمې پر ادبي جرياناتو ئې احتوا لرله ده ته دا ګرانه نه وه چې څه وليکي بلکي دا هم ورمعلومه وه چې څه او څنګه او څوني وليکي.



وفضلی ـ فی القول و العلم ـ اننی
اقول علی علم و اعـــلم ما اعلی

اوس نو چې موږ پخپله د خوشحالخان آثار ګورو او دده د سبک اغېزې پر آيندګانو باندې وينو نو دی پخپل ادبي غورځنګ کې يو بريالی شخصيت ګڼو او دغه بعد ئې زوټ ښکاري.

دوهم :- ځيني ملي غورځنګونه داسې هم وي چې پهلوانان ئې د مېوو خوندونه څکي او ظاهراً بريالي نه ښکاري خو وروسته دا ځرګنده سي چې هغه غورځنګ د يوه بل پاخون ادامه وي او بيا نو بل غورځنګ داسې راتلونکی وي چې د هغه مقصد پوره کاندي او د برې ستوری ئې بشپړ وځليږي.

د خوشحال خان سياسي بعد او دغه حرکت خو د پښتنو د اجتماعي ژوندانه د مرحلو يو پوړ وُ چې د پير روښان د نهضت پايځوړ او د ميرويس هوتک په قيادت د آزادي خواهانو ځری (مقدمه الجيش) ګڼه سي. نو ځکه زه دغه ملي غورځنګ نامراده نه بولم او د افضل خان ليک ته حواله ورکوم چې د پښتنو دغه نهضت ته ئې په څه هيله او اميد کتل د ميرويس په باب کې وايي :

"تر دا تاريخ چې سن زر سل څلرويښت دئ په قندهار ناست، خپل حکومت او سرداري کا توفيق ئې رفيق شه ښه پښتون دئ."
(تاريخ مرصع ۳۰۲)

په پای کې د خوشحال خان په خپله وينا دغه خبره ختموم (۷) :

ګلستان زما د نظـــم شـــګفته ســـو
پرې وهي شيدا بلبـــله پر و بـــال
ګلدستې ئې لور په لور په ملک خپرې سوې
تر کابـــلهٔ تر کشـــميره تر بنـــګال
(کليات ۶۰۸)

## لمن ليکونه

۱. سلطان بهلول لودي دملک کالا زوی ۸۵۵-۸۹۴ ه ق . شېرشاه فريد سوري ۹۴۷-۹۵۲ ه ق.
۲. پټه خزانه ۳۴ خطي
۳. دمغار . دسوات يوځاي دی.
۴ لومړی پېړی دپښت او قرن معنا لري، دوهمه د ناستي چوکی ده.
۵. لنبي بارسوي.
۶. د غالبوزو د ښور مومی مواد.
۷ عرفان مجله، ۱۳۶۰ کال، ۳، ۴، ۵، ۶ او ۷ مه گڼي